# د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

## تحلیل CSRS | شماره: ۳۴۸

۱۷ ثور ۱۳۹۹ هـ ش / 06 May 2020


ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.

---


لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# د افغان سولې وروستي انکشافات او راتلونکې پس منظر




د ۲۰۲۰ز کال د فبرورۍ په ۲۹ نېټه د امریکا او طالبانو ترمینځ د هوکړې پر اساس د بین الافغاني خبرو اترو پیل د افغان سولې پر لور اړین ګام دی. خو د افغانانو ترمینځ د خبرو د پیل لپاره، امریکایي لوري طالبانو ته وعده ورکړې وه چې دوی به د افغان حکومت په زندانونو کې پراته د طالبان 5زره تنه زندانیان آزاد وي. طالبانو ته د بندیانو آزادېدل د بین الافغاني خبرو اترو د پیل لپاره اړین شرط دی. په دې توګه، افغان حکومت ته، چې اصلاً یې په خبرو اترو کې ګډون نه درلود، د بندیانو د آزادۍ مکلفیت راجع دی. د دې تعهد په غبرګون کې ولسمشر محمد اشرف غني د زندانیانو د خلاصون موضوع رد کړه او دا یې د افغان حکومت صلاحیت وګاڼه. د دې ترڅنګ، د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو پر سر د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمینځ ناندرۍ راپورته شوې چې له امله یې طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د یوه ټول شموله پلاوي د رامنځ ته کېدو مخه ونیول شوه.

د بندیانو د آزادۍ د مسئلې او د سیاسي کړکېچن حالت ترڅنګ، د کرونا نړیوالې وبا هم وضعیت نور ستونزمن کړ. امریکا د کرونا وایرس د خپرېدو له کبله پر خپل ځان اخته شوه او د سولې په اړه یې مخکېنۍ چټک حرکت پڅ او سست شو. د کرونا وایرس له کبله پر افغان حکومت هم، د بندیانو د

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

خلاصون، د ټول شموله حکومت د جوړولو او د افغاني پلاوي د ټاکلو په اړه نړیوال فشارونه کم شول. په دې توګه افغان حکومت د سولې په اړه د استراحت چانس لاس ته راوړ .

په لنډه توګه ویلای شو چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د تړون په چوکاټ کې د بین الافغاني خبرو اترو د پیل او افغانستان ته د سولې د راوستو پر وړاندې درې لوی خنډونه پراته دي؛ د بندیانو د خلاصون مسئله او ورسره د جګړې او تاوتریخوالي زیاتېدل، د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو پر سر نانندرۍ او د یوه منسجم او ټول شموله مذاکراتي ټیم نه رامنځ ته کېدل، او بالآخره د کرونا د نړیوالې وباء له کبله ټول مهم سیاسي تحرکات او پلانونه دوهمې درجې ته رالوېدل. دا درې واړه خنډونه یوه بل سره تړلي دي چې لاندې به په تفصیل سره پرې بحث وکړو.

### د بندیانو د آزادۍ مسئله او د تاوتریخوالي زیاتېدل

کله چې افغان حکومت د بندیانو د خلاصون پر وړاندې خنډونه را ولاړ کړل، نو طالبانو بېرته خپل نظامي عملیات پراخ او ګړندي کړل. په دې توګه د اورکم لنډه مرحله پای ته ورسېده او د تاوتریخوالي کچه لوړه شوه. طالبانو د هېواد په مختلفو ولایاتو کې پر حکومتي نظامي مرکزونو بریدونه ډېر کړل چې په پایله کې په لسګونو سرتېري او عام وګړي ووژل شول. بهرنیو ځواکونو هم د افغان حکومت څخه د ملاتړ په پار متقابلې حملې وکړې او پایله کې دواړو لوروېو بل د لاسلیک شوي تړون پر نقض متهم کړل. طالبان د خپل موقف څخه د دفاع لپاره د امریکايي لوري لخوا د ۵ زره تنو طالب زندانیانو د وعدې پر نه عملي کېدو استدلال کوي او دا هم زیاتوي چې د شوې هوکړه لیک له مخې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي د کموالي تعهد نه دی شوی .

بلخوا امریکایان مجبور شول د بېلانس ساتلو په خاطر، د طالبانو سره د سولې د هوکړه لیک سره سم، د محمد اشرف غني د تحلیف په مراسمو کې هم ګډون وکړي. د دې ګډون په پایله کې د عبدالله عبدالله په مقابل کې د محمد اشرف غني تله درنه شوه، خو تر څنګ یې په همدې مراسمو کې د ۱۵ سوه طالب

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

بندیانو مشروطه آزادي ومنله او د نورو بندیانو خلاصون یې د بین الافغاني مذاکراتو پیل پورې مشروط کړ. طالبانو د بندیانو پر آزادۍ هر ډول شرط اېښودل د هوکړه لیک سره په ټکر کې وګڼل او دا وړاندیزیې رد کړ. بلآخره د نړیوالو فشارونو له کبله دواړه لوریو یو شمېر زندانیان آزاد کړل، خو د پاتې کسانو د آزادۍ پروسه ډېره ستونزمنه ښکاري.

دا هم ویل کېدای شي چې د بندیانو د آزادی لپاره هېڅ واضح او روښانه دریځ او تګلوری نه دی معلوم. د دې کار لوی دلیل دا دی چې د طالبانو او امریکا ترمینځ شوی تړون د بندیانو د خلاصولو مکلفیت یوه درېیم لوري ته ( افغان حکومت ته)، چې د تړون طرف نه دی، پر غاړه وراچوي او دا د ستونزې بنیاد تشکیلوي. د بندیانو د خلاصون موضوع که همداسې ستونزمنه پاتې شي نو د بین الافغاني مذاکراتو د پیل خبره لاپسې ځنډېږي او تر هغو به جګړه نور هم زور واخلي.

د بندیانو په خلاصون کې د ځنډ او د تاوتریخوالي د زیاتېدو له کبله د امریکا او طالبانو ترمینځ د شوي تړون د کامل نقض او له مینځه تلو وېره شته. خو تر څنګ یې دواړه لوري کوښښ کوي چې د لازم احتیاط په نظر کې نیولو سره د تړون د ناکامېدو مخه ونیسي. کله چې ملا برادر اخند په خپل پیغام کې امریکا د تعهد پر ماتولو او پر ملکي وګړو د هوایي بریدونو پر زیاتولو متهمه کړه نو امریکایي نظامي او ملکي پلاوي، د تړون د نجات په خاطر، یو ځل بیا په قطر کې د طالبانو د پلاوي سره وکتل. په دې کتنه کې یو ځل بیا د تړون د کامل تطبیق، د بندیانو پر خلاصولو او د تاوتریخوالي پر کمولو ټینګار وشو .

### د ولسمشریزو ټاکنو په سر ناندرۍ او ټول شموله مذاکراتي ټیم

بله جنجالي مسئله د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو پر سر د ناندریو له کبله د یوه قوي ا و ټول شموله مذاکراتي ټیم د نه جوړېدو موضوع ده. طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د مذاکراتي ډلې د ترکیب او څرنګوالي پر سر اختلاف یو اوږد پس منظر لري. افغان حکومت نه غواړي داسې یوه ډله طالبانو سره

پر مېز کېښني چې د حکومت له کنټرول څخه بهر وي. په دې اړه حکومت د نورو سیاسیونو هر ډول هڅه غیر مشروع ګڼلې او دوی یې د افغان حکومت د موقف پر کمزورۍ کولو متهم کړي دي. د حکومت او له حکومت څخه بهر سیاسیونو ترمینځ د مذاکراتي ډلې پر تشکیل او صلاحیتونو د اختلاف موضوع د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د اعلان څخه وروسته نوره هم پېچلې او ستونزمنه شوه. چې بلآخره امریکا په افغانستان کې د ولسمشرۍ چوکۍ پر سر د اختلاف د ختمولو او د یوه ټول شموله حکومت د رامینځته کولو په خاطر د فشار په توګه خپل یو میلیارد ډالر وعده شوې مرسته وځنډوله. د دې تر څنګ امریکا او اروپایي ټولنې افغان لوری پر دې هم متهم کړ چې د سولې پر وړاندې جدي نه دی نو ځکه یې خپل مذاکراتي ټیم نه دی ټاکلی .

د بهرنیو فشارونو له کبله افغان حکومت د مذاکراتي ټیم نومونه اعلان کړل. نړیوالو که څه هم دا نیک اقدام وګاڼه خو په کور د ننه د ټیم د غړو په اړه سیاسیون او د ټولنې نور وګړي معترض پاتې شول. دلیل دا وو چې په مذاکراتي ټیم کې طالبانو سره د خبرو اترو لپاره جوګه نومونه ډېر کم او کابو ټول غړي د شخصي روابطو پر اساس ټاکل شوي او د حکومت د کنترول لاندې خلک دي. طالبانو هم د یاد لست مخالفت وکړ، د دې لست د غړو سره یې د مذاکراتو خبره رد کړه او د یوه ټول شموله مذاکراتي ټیم سره پر خبرو کولو یې یو ځل بیا ټینګار وکړ .

په لنډه توګه ویل کېدای شي چې افغان حکومت لاهم د شته وضعیت دوام ته د سولې په نسبت ترجیح ورکوي. د سولې په اړه د حکومت دا منفعت پرستانه موقف کېدای شي د دې سبب شي چې شته فرصت له لاسه ولاړ شي او په وطن کی د جګړې اور همداسې بل پاتې شي. په ظاهره خو داسې ښکاري چې د امریکا حکومت او طالبان غواړي د تړون د ناکامېدو مخه ونیسي خو افغان حکومت او ځینې سیاسي لوري بیا د تړون په اړه د مسئولیت احساس نه کوي او داسې ښکاري چې د ناکامېدو په اړه یې هېڅ تشویش هم نه لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## د کرونا نړیواله وباء او د سولې پر هڅو یې اغېز

کله چې کرونا د امریکا لوی ښارونه تر خپل برید لاندې ونیول نو د امریکایي حکومت ټولې هڅې د دې مریضۍ کابو کولو ته واوښتې. نړیوال سیاست او میډیا خپله ټوله پاملرنه کرونا او له کرونا وروسته احتمالي سیاسي او اقتصادي پایلو ته واړوله. د افغانستان په داخل کې هم د کرونا د خپرېدو له کبله لمړیتوبونه تغیر شول او د هرچا پام همدې ستونزې ته شو. نتیجه دا شوه چې د سولې هڅې خپل پخوانی ګرموالی له لاسه ورکړي او سړې شي. کله چې امریکایان او افغان ملت ټول کرونا سره د مبارزې لپاره په تشویش کې شول نو پر حکومت د فشار ټول چینلونه ضعیف شول. په دې توګه د ولسمشریزو ټاکنو پر سر د ناندریو موضوع همداسې دومداره پاتې شوه، د بندیانو د خلاصون موضوع سسته شوه او د بین الافغاني مذاکراتو د پیل خبره نا معلوم وخت ته وځنډېده. د کرونا د وباء مسئله ښکاري چې داسې ژر ختمه نه شي او معلومه نه ده چې څه وخت به امریکا، افغان ملت او حکومت بېرته خپلو پخوانیو لومړیتوبونو ته راګرځي؟ دی ځنډونو ته په کتو سره د افغان سولې راتلونکی چندان روښانه نه ښکاري. قوي احتمال همدا دی چې تر ډېري مودې به افغان اولس د سولې نه محروم او جګړه به همداسې روانه وي.

---

## یادونه

د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړونو مرکز اداره ټولو اړوند اړخونو ته یادونه کوي چې لاندیني دوه رسمي برېښنالیک حسابونه د (CSRS) پورې تړاو لري:

csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

هغه لیکنې او پیغامونه چې د ورته برېښنالیکونو او پتو له لارې د CSRS په نوم خپرېږي، جعلي دي او اعتبار نه لري.

په درنښت

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

**سرچيني:**


- طالبان: امریکا د سولې له تړونه سرغړونه کړې - https://www.pashtovoa.com/a/the-taliban-has-said-that-us-has-violated-the-agreement/5360808.html
- US officials discuss rocky peace agreement with Taliban in Qatar - https://english.alaraby.co.uk/english/news/2020/4/14/us-officials-discuss-rocky-peace-agreement-with-taliban
- - Pompeo to Afghan leaders: Make a deal with the Taliban or risk full U.S. troop pullout https://www.nbcnews.com/news/world/pompeo-afghan-leaders-make-deal-taliban-or-risk-full-u-n1174161
- د افغان سولې مذاکراتي ټیم ته غبرګونونه - https://www.pashtovoa.com/a/5349958.html

د سولې له اعلان شوي مذاکراتي ټیم سره د طالبانو مخالفت – http-

- د سولې له اعلان شوي مذاکراتي ټیم سره د طالبانو مخالفت - https://baztab.news/article/1302772-


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## چگونه از تأثیرات منفی ایام قرنطینه در درون خانواده در امان بمانیم؟




شرایط کنونی کرونایی سبب گردیده است که افراد در ایام قرنطینه خانه گی ساعات زیادی را در کنار خانواده های شان باشند. واژه قرنطینه نشان دهنده یک وضعیت طبیعی نیست، و افراد را در یک وضعیت غیر طبیعی و غیر قابل تصور قرار داده است. همانگونه که بالای اوضاع سیاسی، اقتصادی و اجتماعی کشورها اثر گذاشته است، قرنطینه بالای روابط افراد در درون خانواده ها نیز تاثیرات قابل ملاحظهٔ داشته است.

این تاثیرات به نحوه ی دید و مدیریت افراد خانواده ارتباط دارد، که از آن منحیث فرصت بهره مند می شوند ویا هم می گذارند که به چالشی مبدل گردد. به خاطر جلوگیری از تاثیرات منفی ایام قرنطینه، اعضای خانواده نیاز به فضای آرام و صمیمی دور از استرس در کنار همدیگر دارند. تحلیل حاضر بر همین محور تمرکز دارد.

### تاثیرات منفی کرونا بالای روابط خانواده

قرنطینه یعنی سپری کردن روزهای بیشتر نسبت به روزهای معمول گذشته با اعضایی خانواده می باشد. این بیان کننده این موضوع است که در کنار مثبت بودن تاثیرات منفی نیز برای خانواده ها دارد.

دربعضی جوامع؛ ایام قرنطینه سبب بالا رفتن گراف اختلاف میان زنان و شوهران شان گردیده است. در در ایران مدیر کل اداره و مشاور اجتماعی طی گزارش بیان نموده که اخیراً آمار اختلافات اجتماعی بین زوجین، سه برابر افزایش یافته است. همچنان نهادهای مدافع حقوق مدنی در فرانسه نیز از بالا رفتن آمار خشونت ها در دوران

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

قرنطینه هشدار می دهند. به گفته کریستف کاستنر، وزیر کشور فرانسه آمار موارد خشونت خانه گی تنها در پاریس ۳٦ درصد رشد داشته است. کشور چین بعد از کمرنگ نمودن قرنطینه شاهد لیست طویل از زوج های که خواستار طلاق اند گردید. این موضوع بیان می کند که وقتی در مدت زمان طویل بدون مدیریت زمان و استفاده از فرصت ها خانواده ها در کنار هم قرار می گیرند شاهد تفاوت های بیشتر میان هم می شوند .

کودکان نیز در شرایط کنونی بخشی از انرژی که قبلا در بیرون از خانه مصرف می کردند آن را نیز با خود به خانه آورده اند، این موضوع نیز تاب و تحمل خانواده ها را کم ساخته است و سبب بروز اختلافات در میان خانواده می گردد. افغانستان از جمله کشورهای است که اکثریت فامیل ها بزرگ بوده، زندگی مشترک با هم دارند. بسیار اختلافات بحث و جدل ایجاد شده نیز روی همین مورد در خانواده ها صورت می گیرد.

خانواده های افغان، علاوه بر مشکلاتی که قبلاً داشته اند، این روز ها شاهد تعطیلی کسب و کارهای شان نیز هستند، از دست دادن شغل یعنی مقابل شدن با مشکلات فراوان مالی برای سرپرست های خانواده ها که اغلب هزینه مالی را بر دوش دارند، موجب به وجود آمدن اضطراب و تشویش در آنها می شود .

اکثر خانواده ها محافل و مراسم خوشی خود را که قبلاً در نظر داشتند، بنابر وضعیت موجود به مدت نامعلوم به تعویق انداخته اند که این کار سبب تولید فشار اضافی و احیاناً باعث خرابی روابط میان فامیل دختر و پسر می گردد.

افزایش مسئولیت مادران در حفظ سلامتی اعضای خانواده سبب گردیده است که زحمت شان دو چند گردد. محافظت از اعضای خانواده به ویژه در موقع که فرزندان بیرون از خانه هستند، به دغدغهٔ فکری مادران مبدل شده است. با وجود اینکه توصیه های بسیاری برای نوجوانان فامیل صورت می گیرد، اما کمتر به توصیه های صحی توجه می کنند.

از لحاظ اقتصادی نیز، وضعیت موجود کرونایی بر تمام خانواده ها تاثیرات منفی خود را دارا می باشد، ولی خانواده هایی که امید شان به آینده کمتر و یا هم تحت فشار اقتصادی و مالی قرار دارند بیشتر متأثر گردیده اند .

## تاثیرات مثبت کرونا بر روابط خانواده ها

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

با پیشرفت بشر و دسترسی به تکنولوژی های جدید و با روی کار آمدن شبکه های مجازی ارتباط بین خانواده ها، نسبت به گذشته ها کمرنگ تر شد. این وضعیت سبب بی میلی وعدم صمیمیت ناخواسته میان اعضای خانواده ها گردید. شاید اولین تأثیر مثبت ویروس کرونا با قرنطینه خانه گی تقویت روابط فامیلی و اعاده ی صمیمیت به خانه ها باشد. کرونا خانواده ها را دوباره دور هم جمع کرد و با ایجاد فرصت گفتگو و ارتباط و رفع مشکلات در بین اعضای خانواده توانسته، صمیت بین خانواده ها را زنده کند. در بسیاری از جوامع فردانیت به حدی غلبه نموده بود که اعضای خانواده ی واحد، نشست و گفتگو با هم را از اولویت های خود بیرون نموده بودند، اما بحران کرونا؛ بودن در کنار خانواده را دوباره در اولویت انسان ها قرار داد .

در شرائط قرنطینه اعضای خانواده ساعت های دراز در کنار هم بوده مشترک به بسیار فعالیت ها می پردازند، همکاری در نظافت منزل، تعمیر وسایل، تغیر دکوریش خانه، همکاری در آشپزی وغیره، مصروفیت هایی است که اعضای خانواده را گرد هم می آورد. همچنان کرونا در خانواده ها فرصت برای ایجاد وشکوفایی استعداد های نهفته را ایجاد نموده است، بسیاری از اعضایی خانواده ها را مصروف کار های نموده است که قبلا بنابر مشغولیت های بیرون از خانه، از آن دور مانده بودند. به باور بعضی روان شناسان؛ در کنار هم بودن و شرکت آقایان در کارهای خانه از نتایج مثبت کرونا است، آنها با بودن در خانه توانستند که از شرایط خانه آگاهی حاصل نموده و خانم های شان را بیشتر درک نمایند.

مادرانی که بنابر مشکلات متفاوت همانند مشکلات مالی مجبور به رها کردن فرزندان و رفتن به سوی وظیفه شده بودند، فرصت این را یافتند که با فرزندان خود وقت کافی سپری نموده و از اوضاع آنها با خبر گردند. همچنین پدران خانواده برای شرکت در فعالیت روز مره فرزندان خود وقت بیشتری را بدست آورده اند. والدین در کنار این که با فرزندان خود وقت سپری می نمایند به همدیگر خود روحیه می دهند این سبب محکم شدن روابط فامیل گردیده و اعتماد به نفس را افزایش می دهد.

کرونا اگر در بیرون از خانه موارد بسیاری از فامیل ها را با چالش مواجه ساخته است، سبب مدیریت بهتر امور اقتصادی در داخل فامیل ها گردیده است. حالا هر فامیلی می کوشد تا از مصارف غیر ضروری پرهیز نموده از

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

اسراف جلوگیری نمایند. علاوه بر این، قرنطینه در ماه مبارک رمضان سبب گردیده که خانواده ها فرصت کافی برای عبادات جمعی مانند نماز جماعت، تلاوت قران و دعا و نیایش بدست آورند، در حالیکه قبلا بیشتر خانواده ها تجربه این فعالیت ها را نداشته اند.

اعضای خانواده به خصوص فرزندان فامیل در عوض ۲۴ ساعته در فضای مجازی، در کناز سایر افراد خانواده می توانند به طریقه های مختلف مانند: ورزش کردن، خواندن کتاب و مجلات، قصه گویی، بیان خاطره ها، باغبانی، آموزش، آشپزی و... مهارت های متفاوت را تجربه نمایند. اکثریت جوانان و نوجوانان در خانواده ها متوجه شده اند، که خواب غیر منظم و بیش از حد، روز های بی برنامه واقعا خسته کن و بی هدف است بیشتر کوشش کنند روزها و ساعت های خود را در آموزش و سر به راه نمودن فعالیت ها خانه سپری نمایند.

ویروس کرونا با قرنطینه ی که ایجاد نموده است، تجربهٔ غیر قابل پیش بینی را برای افراد و خانواده ها ایجاد نموده است، با مدیریت درست می توانیم از آن بهرمند شویم.

## مدیریت بهتر کانون خانواده در ایام قرنطینه

انسان ها پنج محرک اصلی در زندگی دارند، این محرک ها شامل نیاز به زنده ماندن، نیاز دوست داشتن، نیاز به قدرت، نیاز به آزادی و نیاز به تفریح می باشد. ویروس کرونا برای بشریت رسیدن به این محرک ها را محدود گردانیده است، آزادی و امنیت قبل را ندارند، فرصتی تفریح را بیشتر در خارج از خانه جستجو می گردید، از دست داده اند، ناتوانایی هایش را برایش ظاهر نموده است... پس باید این محرک ها را در فامیل ایجاد نماییم به همدیگر احساس اهمیت و دوست داشتن را دهیم، با در کنار هم بودن می توانیم نشان دهیم تمام این محرک ها را شخص می تواند در فامیل داشته باشد.

وبای کرونا خانواده ها را به اجبار رضا دور هم جمع کرده است، ولی موضوع اساسی این است که چگونه این فضای پر چالش را در درون خانواده به فرصتی خوب جهت تحکیم خانواده مبدل سازیم؟ این حالتی است که برخلاف خواست ما پیش آماده، و راه فرار از آن وجود ندارد. در چنین شرائطی باید هریک از ما بکوشیم تا در خانواده های خود اعتماد و آرامش ایجاد نماییم نه اینکه عامل تحت فشار قرار دادن بیشتر خانواده های خود

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

گردیم. از غرزدن ها و جنجال های که انرژی خود و طرف مقابل ما را ضایع می گرداند، صرف نظر نموده از صبر و حوصله ی بیشتر استفاده نماییم .

یکی از چالش های جامعه ی ما این است که ما قبلا میان اعضای فامیل فعالیت مشترک نداشته ایم و این موضوع سبب می گردد یکی از اعضایی فامیل از کار خسته گردد و دیگر آن از بی مصروفیتی خلق تنگ شود. به همین خاطر باید در ایام قرنطینه فرصت فعالیت های مشترک میان اعضایی خانواده را ایجاد نماییم. به خصوص؛ اعضای مرد فامیل که قبلاً کمتر در امور خانه سهم می گرفتند؛ در ایام قرنطینه باید در امور خانه به حد کافی سهیم گردند.

در میان اعضایی فامیل باید تعامل منطقی وجود داشته باشد، در واقع غصه خوردن، انداختن تقصیر به گردن دیگران، نه تنها کمکی به کاهش مشکلات نمی کند بل خود سبب ایجاد استرس های جدید می گردد. اگر اطفال با انرژی کودکانه خود اوضاع را برای ما تنگ می نماید کوشش کنیم برای شان مصروفیت ایجاد نمایم، امروز بهترین فرصت برای ما وجود دارد که تربیه اطفال خود را از تلویزیون، کوچه و بازار و افراد که شناخت کافی از آنها نداریم جمع کرده بدست خود بگیریم. این زمانی است که باید برای عبور موفقانه در شاهراه زندگی مهارت های جدید کسب نماییم.

بهترین راهکار این است که خانواده ها با آموزش های مجازی، خواندن کتاب ها و آموختن فعالیت های جدید مهارت های زندگی را بیاموزند و با دانش و توانمندی علمی بر اختلالات خویش فایق آیند. برخی از این مهارت ها باید آمادگی به خاطر قبول مشکلات آینده باشد، چون جهان بعد از کرونا رنگ متفاوت خواهد داشت.

خانواده های موفق همیشه از در کنار هم بودن لذت می برند در حالت های دشوار روحیه و اعتماد به نفس همدیگر را تقویت می نمایند. اعضای خانواده هر کدام خلق و خوی خاص خود را دارند سرپرست خانواده می تواند با مدیریت درست، بحران کرونا را برای هر یک اعضای خانواده به فرصت مبدل نماید.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## اطلاعیه

به آگاهی تمام جهات معنی رسانیده می شود که مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی (CSRS) فقط دارای دو ایمیل رسمی به تفصیل ذیل می باشد:

**csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com**

مطالب و پیام هاییکه احیاناً از آدرس (CSRS) با ایمیل های مشابه صادر می گردد؛ جعلی بوده و قابل اعتماد نمی باشد.

با احترام

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

**منابع:**


- https://www.independentpersian.com/node/50801/%DA%A9%D8%B1%D9%88%D9%86%D8%A7-%D9%88-%D8%AE%D8%B4%D9%88%D9%86%D8%AA-%D8%AE%D8%A7%D9%86%DA%AF%DB%8C-%D8%B9%D9%84%DB%8C%D9%87-%D8%B2%D9%86%D8%A7%D9%86
- https://www.google.com/amp/s/www.yjc.ir/fa/amp/news/7278753
- https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/news/amp/uk-england-tyne-51530431